د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پراختیا

اوونیزه

۱۱۷ مه گڼه • پنجشنبه • د سلواغه ۱۰مه • ۱۳۹۸



۹

## روان کال په دایکنډۍ کې ۸٤ ټولګټې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي



۳

په ۱۳۹۸ کال کې په تخار کې د ۱.۱۷۲ میلیاردو افغانیو په ارزښت ۱۵۷ پروژې بشپړې شوي



۸

په ننګرهار کې د ۳۲،۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۲ پروژو چارې بشپړې او د ۷،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو نورو پروژو چارې پیل شوې

# تیره اونۍ د هیواد په پنځو ولایتونو کې ددریو ښوونځیو جوړولو کار بشپړ او د پنځو نورو پیل شو

۱۰/ سلواغه/ ۱۳۹۸


د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروژې تر سیوري لاندې د فاریاب ولایت په قرمقل او د بلخ ولایت په چهارکنت ولسوالیو کې ددریو ښوونځیو جوړولو کار بشپړ شو او نږدې ٦ زره زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شو.

او په دریو ولایتونو کې د دریو ښوونځیو جوړولو کار پیل شو، دا ښوونځي د خوست په تنیو، د بادغیس په ابکمري او د ننګرهار په کوز کونړ ولسوالیو کې جوړیږي. دا ښوونځي به ۱۲، ۸ یا ٦ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې ولري.

ددې پروژو په ترڅ کې زرګونه کاري ورځې رامنځ ته شوي او په بشپړتیا سره به یې نږدې ۱۷۰۰ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.









# په ۱۳۹۸ کال کې په تخار کې د ۱.۱۷۲ میلیاردو افغانیو په ارزښت ۱۵۷ پروژې بشپړې شوي

۵/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت په ۱۳۹۸ لمریز کال کې د تخار ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کې د ۱.۱۷۲ میلیاردو افغانیو په ارزښت د کرنې، ترانسپورت، ټولنیز خوندیتابه، بریښنا او د څښاک د اوبو چمتو کولو په برخه کې ۱۵۷ پروژې بشپړې کړي اوګټې اخستنې ته سپارلې دي، د تخار ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس صبغت الله نظري د ۱۳۹۸ ل کال د فعالیتونو او لاس ته راوړنو د بیانولو پر مهال یوې غونډې وویل چې ددې پروژو په ترڅ کې ۱۹۵ زره ۱٤۲ کارګرو ته کاري ورځې رامنځ شوي وې او ۷۱ زره او ۵۸٤ کورنی ترې نیغ په نیغه ګټه پورته کوي نوموړي وویل هغه ۳٦ پروژې چې په یاد کال کې د همکارو موسسو له خوا تر کار لاندې وې ۲٦ پروژې یې بشپړې شوي اوګټې اخیستنې ته سپارل شوي.





# سمنګانو کې د څه باندې ٤.۹ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه پل جوړیدو کار مخ په بشپړیدا دی

۵/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ٤.۹ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه پل د جوړولو کار د سمنګانو ولایت د حضرت سلطان ولسوالی اړوند په لوپان نو او لوپان کهنه کلیو کې روان دی. دغه پل چې ۲۰ متره اوږد والي او شاو خوا درې نیم متره لوړوالي لري، تر اوسه یې ۸۰ سلنه کار پرمختګ کړي دی. د یادونې وړ ده چې د نوموړي پل د کار په بهیر کې به ماهرو اوغیرو ماهرو کارګرو ته ۳۳۰۰ کاري ورځې رامنځ ته شي او د کلي ۱۹۸ کورنی به ترینه ګټه پورته کړي



# په ننگرهار کې شاوخوا ٤٥٠ کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۵ /سلواغه/ ۱۳۸۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د ملي پروګرام له لوري د څه باندې ٤ میلیونه افغانیو په لګښت سره چې د دولت له بودجې نه د مالیې وزارت لخوا ورکړل شوې، د ننګرهار ولایت د نازیانو ولسوالۍ په نوي نیازمحمد کلي کې د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه او د خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د اوبو رسولو دغه شبکه چې په تکمیلېدو سره یې د څه باندې ٤٥٠ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې د یادونې وړه ده چې د دغې شبکې د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره ۱۲۰ کاري ورځې هم ایجاد کړې.

# هلمند کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۸/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار د هلمند ولایت دناوه بارکزایي ولسوالۍ اړوند د غلام رسول کلي د پراختیایي شورا له خوا بشپړ شو. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۲۲ متره دي او ۲۸ د اوبو د ویش دروازې هم لري چې د نوموړي کانال په وسیله ۵۰۰ جریبه ځمکه خړوبیږي. د دغې پروژې په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۸۵۰ کاري ورځې رامنځته شوې او د کلي ۹۰ کورنۍ ترینه ګټه اخلي.





# په ننګرهار کې د ۵.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یواستنادي دیوال هوکړه لیک لاسلیک شو

۵/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د ننګرهار د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د کامې ولسوالۍ د ده طاهر کلي له پرمختیایي شورا سره د پنځه نیم میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۵۰ مترو په اوږدوالي د یوه استنادي دیوال د جوړیدو هوکړه لیک لاسلیک شو.

د ننګرهار د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینر امان الله میاخیل وویل دغه استنادي دیوال د کلیو پراختیا وزارت د سیمه ییزې همغږۍ (□□) پروګرام له لوري د مالیې وزارت له بودیجې څخه جوړیږي چې په یوه کال کې به یې د جوړیدو چارې بشپړې شي.

# په کندهار کې څه باندې د ۱ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار روان دی

۷/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اړوند د عبدالرحیم کلي پراختیایي شورا له خوا روان دی. د دغه کانال مجموعي اوږدوالي ۶۰۰ متره دي او ۱۶ د اوبو د ویش دروازې لري. د دغې پروژې د جوړولو په بهیر کې به ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۶۸۰ کاري ورځې رامنځته شي او د کلي ۹۰ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي.





## په بدخشان کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۹/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار د بدخشان ولایت د اشکاشم ولسوالۍ اړوند د یخدرو کلي د پراختیايي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۵۰۰ متره دي چې د پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کارګرو ته ۱۳۷۰ کاري ورځې رامنځ ته شوي چې د دغه کانال تر څنګ د ۴۲ مترو په اوږد والي یو محافظوي دیوال او د ۲۵۰ مترو په اندازه لایتینګ هم جوړ شو. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۱۹۱ جریبه ځمکه خړوبه شي.

## په ننګرهار کې د څه باندې ۲.۷ میلیونه افغانیو په لګښت د سړک د بیا رغونې کار روان دی

۱۳۹۸/ سلواغه/ ٦

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام دخارنې، ساتنې او ودانۍ لپاره د پراختیايي نغدي وجهې پروګرام (MCCG) له خوا د څه باندې ۲.۷ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه سړک د شګې اچولو، د ځینو برخو پراخولو او د سړک د غاړې د سنګ کارۍ کار د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ اړوند د بردګلۍ د پراختیايي شورا له خوا روان دی. د دغه سړک اوږدوالي نږدې ۸۰۰ متره او پلنوالي یې ٤ متره دي چې کار یې تر اوسه ۳۰سلنه پرمخ تللی دی. د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې به د ٤٠ ورځو لپاره ۱۱۸ ماهرو او غیر ماهرو کارګروته د کار زمینه برابره شي او له بشپړیدو وروسته به ۳۳٦ کورنۍ ترینه ګټه واخلي.





# تهیه‌ی آب آشامیدنی برای ٦٦٠ خانواده در ننگرهار

۷ دلو ۱۳۹۸

کار ساخت ۳ شبکه‌ی آبرسانی به ارزش مجموعی ۷.٦ میلیون افغانی از سوی برنامه آبرسانی و حفظ الصحه روستایی، وزارت احیا و انکشاف دهات در روستاهای کوز هندرانی، حیدرخیل و وچه غاره‌ی ولسوالی کوت ولایت ننگرهار تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

در جریان ساخت این شبکه‌ها ۳٤۰ روز کاری ایجاد شده و با تکمیل آن‌ها ٦٦٠ خانواده به آب آشامیدنی صحی دسترسی یافته اند.

# د لغمان په الینگار ولسوالۍ کې د ۲،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو سربند د جوړولو چارې روانې دي

۱۳۹۸/سلواغې/ ۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د کندې په سیمه کې د اوبوسربند د رغونې چارې د ۲،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت روانې دي. په دې پروژه کې د ۱٦۷ متره محافظوي دیوال جوړول او نور ملحقات شامل دي، چې په جوړېدو سره به یې سلګونه جریبه کرنیزې ځمکې خړوبې شي اود سیمې د اوسیدونکو په اقتصادي حالت کې به ښه والي راولي.





# په ننگرهار کې د ۳۲،۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۲ پروژو چارې بشپړې او د ۷،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو نورو پروژو چارې پیل شوې

۹/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د ننگرهارد کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له لوري دگوشتې ولسوالی په بیلابیلو سیمو کې د ۳۲،۳ میلیونه افغانیو په لګښت د کانالونو، استنادي دیوالونو، کانکریټي سړکونو او ویالو جوړولو چارې بشپړې او د ۷،٦ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو د دوو شبکو چارې پیل شوې. د ننگرهارد کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس انجینر امان الله میاخیل وویل ۲۲ پروژې دافغانستان لپاره د سویډن کمیټې (SCA) په مالي لګښت بشپړې شوې دي او د او بو رسولو شبکې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست داوبورسولو دپروګرام له لوري چې یوه شبکه د ۳،۹ میلیونه افغانیو په لګښت د مالیې وزارت (MOF) له بودیجې څخه جوړیږي چې ۲۷۳ کورنیو ته د څښاک اوبه برابروي او دویمه یې د ۳،۸ میلیونه افغانیو په لګښت د (UNCIEF) په مالي لګښت جوړیږي چې ۲۸۵ کورنیو ته به د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي.
ددې پروژو چارې به په شپږو میاشتو کې داړونده کلیو دشوراګانو له لارې بشپړې شي چې د سیمې اوسیدونکو ته به ۳۸۰۰ کاري ورځې رامنځ ته کړي.



# روان کال په دایکنډي کې ۸٤ تولګټې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي

۵ دلو ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندي مجیب الرحمن کریمي، نن شنبه د خپل کار په دفتر کې د دایکنډي له والي سیدانور رحمتي او په ولسي جرګه کې ددغه ولایت له استازې سره ولیدل.

د دایکنډې والي په هغه ولایت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت لخوا پلي کیدونکې پروژې اغېزمنې یادې کړې چې له امله یې د کلیوالو په ژوند کې اړینې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

والي همدا راز د خلکو یو شمېر غوښتنې او اړتیاوې چې د پلونو او څښاک اوبو په برخه کې وې، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر سره شریکې کړې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي وویل، کلیوالو ته د پاکو اوبو رسول د وزارت په لومړیتوبونو کې دي چې دایکنډې هم ترې برخمن دي او لا ډېره پاملرنه به ورته وشي.

ښاغلي کریمي زیاته کړه، روان کال په دایکنډې کې په مختلفو برخو کې ۸٤ پرمختیایي او تولګټې پروژې بشپړې شوې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې چې نیږدې ۳۲ زره کسانو ته یې ګټه رسیدلې او شاوخوا ۳۰٤ ملیونه افغانۍ پرې لګیدلې دي. باید یاده شي چې همدا اوس په یاد ولایت کې د شاوخوا ۷٦۰ ملیونه افغانیو په ارزښت د ۳٤۵ مختلفو پروژو چارې روانې دي.



# په کندهار ولایت کې له ۹۵ اړو کورنیو سره د څه باندې ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۰/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالی د پراختیایي شورا له خوا ۹۵ اړو کورنیو سره د ٤ میلیونه او ۱۲ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوي چې غوړي، اوړه، بوره، وریژې او مالګه پکې شامل وو. د بې روزګاری او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکوله لوري د بې وزلو وګړو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.



# په بدخشان کې د څه باندې ۱.۷ ملیيونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۱۰/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار د بدخشان ولایت د اشکاشم ولسوالی اړوند د ولیج کلي د پراختیایي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د دغه محافظوي دیوال مجموعي اوږدوالي ۱۱۰۰ متره دي چې د پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۱٤۰۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې او د کلي ۲۳۳ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبه کړي.

# هلمند کې څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال جوړولو کار روان دی

۷/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کانال د جوړولو کار د هلمند ولایت د بارکزایي ولسوالۍ اړوند د حاجي عطا محمد ګوهرګین کلي د پراختیایي شورا له خوا روان دي. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۱۲۰۰ متره دي چې ۳۵ د اوبو د ویش دروازې لري. د دغې پروژې د جوړولو په بهیر کې به ماهرو او غیرو ماهرو کارېګرو ته ۱۲۵۰ کاري ورځې رامنځ ته شي او د کلي ۷۵ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۲۰۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي.





# په دایکنډي کې ۵۵ بیلابیلې پروژې ګټه اخیستونکو ته وسپارل شوې

۷/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام لوري ۵۵ بیلابیلې پروژې ګټه اخیستونکو ته وسپارل شوې په دې پروژو کې د اوبو رسولو ۱۵ شبکې ۷۵ څاه ګانې، د کرنیزو اوبو ۱۸ زیرمې او کانالونه ۳ پایپ سکیمه او ۱۰ کیلو متره سړک راځي دا پروژې د مرکز، کیتي او میرامور ولسوالیو په بیلو کلیو کې ګټې اخیستنې ته سپارل وې دي، چې نږدې ۷۱.۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلي و چې نړیوال بانک ورکړي و. ۱۵۱۶۰ کورنۍ له دې پروژو ګټه اخلي.